# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

| www.afgazad.com | afgazad@gmail.com |
|---|---|
| Political | سیاسی |

بســــــــمل
۲۰۰۹-۰۹-۲۶

## ببړنی اعلامیـــــــــــه

### زموږ په سیمه کې به یوخطرناک سرطاني مرخیړی ددریمي نړیوالي جګړې سبب شي

**موږ د ویانا کنوانسیون د۱۹۶۱او۱۹۶۳زیږدیزوکلونود پرېکړو درناوی غواړو**

قدرمنو، په هیواد،ولس اوناموس مینوهیوادوالو اوسیمه والو!

د جرمني په بایرن ایالت کې دافغانانو کولتـــوري تولنـــه په ډېر درناوي سره له تاسو څخه هیله کوي چې دیو خطرنـاک سرطاني مرخیړي د پراختیا مخه ونیسئ او کـه نـه نـو د پیړیو پیړیو غلامۍ تـه بـه اړایستلای شئ .

عزتمنو خویندو او ورونـو!

په نړۍ اوسیمه کې دروانو لوبواو دوه مخوسیاستونوله مخې بربنده اوجوته شوه چې د تروریزم په پلمه ورو په ورو زموږ بډایه سیمه په موډرن ډول سره د ښنکپلاکګروترسینه لاندي کیږي .

کوم څه چې د۲۰۰۱کال دسپتمبر په یوولسمه نېټه په نیویارک کې پېښ شول اوس یې نړیوالوته نوي ذهنیتونـه او دبشریت دراتلونکي لپاره بې شمېره اندېښني پیدا کړې دي .

که موږ او تاسو لږ په ځیر سره دافغانستان اشغال اوورسره څنګ کې بیاپـه ډېره بیړه دعراق اشغال تـه پام وکړو نـو بـه دې نتېجې تـه ورسیږو چې SIA اوبـوش پـه تـوده کې سړه رانـه وستـه مانـا دسپتمبر د۱۱یوولسمي نېټې پـه پلمـه یې سم لاسي دخپلودکتورینوستراتیژیکي نقشې اودکلونـو کلونـو سنجول شوي پلانونه یوپر بل پسې په خوراسرتمبکي اوډېره بې رحمي سره عملي کړل .

په ښنو ولاړ نظامونه یې ونړول، سیمه یې اشغال او داشغال د دوام لپاره یې داسې مقاومت وزېږاوه چې هم یې تمویلوي اوهم یې هغه برخه ځيې له کومې یې چې سترګه کیږي ترڅوپه سیمه کې د دوی پاتـه کېدوتـه پلمـه پاتـه وي .

دا چې صدام پـه لنډه مـوده کې پیدااوغرغره کېدای شي خو پـه نـږدې یـوه لســپزه کې د اسامه اوطالـب جګپوړو چارواکوپټه لا نه لګي علت یې دښنکپلاک اوږدول دي .

زموږ په پوره ګمان اسامه اوطالب مشران د SIA او ISI په ولکه کې دي چې یا خو بـه یې پـه راتلونکي کې یو ځل بیا په تخت سپاره کړي او یا خو بـه یې دخپلو ګټو، اعتباراوځان سپیناوي لپاره غرغرې تـه پورتـه کړي .

داچې ښاغلی مک کرستېل په ډول ډول پلمو سره نور پوځیان غواړي هدف یې د سیمې دایمي اشغال، نـاارامي او په اسیا کې نوروطبعي منابعوته ځان رسول دي لکه څنګه یې چې دسپتمبر د یولسمې نېټې پېښنه زموږ د ګران افغانستان د اشغال لپاره وکارولـه همداسې دا ننـۍ نـا امني کومـه چې دوی پخپلـه زېږولې ده د دې لپاره کاروي چې په سیمه کې خپل پوځي حضور غښتلی او هېوادونه یرغمل کړي .

دا خویې لا دا خو تر شا یې ده بلا هغه داچې لـه پاس ذکر شوي د(سرطان خطرنـاک مرخیړي) څخه زموږ هدف په سیمه کې د امریکا لوی استخباراتي مرکز دی کوم چې دسفارت په نوم په پاکستان کې جوړیږي البتـه د تاسود لا مالوماتو لپاره په لاندې ډول سره دپاکستان دجنګ ورځپاڼې لیکنه خپروو.

ژباړن: هارون شفیقي

له پاکستان نه خپریدونکي جنګ ورځپاڼي په خپله یوه وروستی ګڼه کي په پاکستان کي د امریکا د پوځي او استخباراتي بوختیاوو په اړه یوه لیکنه خپره کړې ده چي دلته یې په ګډه سره لولو:

په اسلام آباد کي د امریکا د سفارت د پراخولو د پلان په اړه د پاکستان ستري محکمي ته د هغه هیواد د وطن ګوند لخوا عرض شوی دی او ویل شوي دي چي امریکا غواړي په اسلام آباد کي خپل سفارت اتلس هکتاره نور هم پراخ کړي چي له دې سره به د امریکا سفارت ۵۶ هکتاره (۱۱۵۰جریبه) ساحه ونیسي . په حقیقت کي امریکا غواړي په دې پلمه په پاکستان کي پوځي هډه جوړه کړي. ځکه چي دومره لویه ساحه یوازي د دیپلوماتیکو اړتیاوو لپاره نه کارول کیږي، په عریضه کي ویل شوي دي چي که سفارت ته دغه ځمکه ورکړل شوه نو د پاکستان اتومي تاسیسات او ملکي سلامتی ته سخت ګواښ دی.

امریکا د خپل سفارت د ساتني او امنیت په پلمه دوه سوه کورونه پر کرایه نیسي د دې ټولو اقداماتو لپاره اجازه ورکول د پاکستان لپاره ډیر بد شګون دی، پر دې سربیره په پاکستان کي د بلیك واټر امریکایي امنیتي کمپنی هم فعاله ده چي په جاسوسي او ترهګري چارو کي ځانګړی مهارت لري، د وطن ګوند له خوا په عرض پاڼه کي دا یادونه هم شوې ده چي سعودي عربستان او ځیني نور عربي هیوادونه په سند او پنجاب کي غواړي اوه لکه هکتاره کرنیزه ځمکه وپیري، د دې اندیښنه شته چي د شرقي هند د کمپنی په څېر دغه ځمکه هم د امریکا د لومړنیو موخو لپاره وپیرل شي، په ستره محکمه کي پر کورنیو چارو وزارت، بهرنیو چارو وزارت او د قانون پر وزارت دعوه شوې چي باید د دې معاملي مخنیوی وشي او د هیواد ملي ګټي وساتل شي، تردې وړاندي د سند په ایالتي محکمه کي هم د امریکا په سفارت کي د ۷۵۰۰۰ پوځیانو لپاره د هستوګنځایونو جوړولو پرخلاف عریضه شوې وه، په هغه عریضه کي هم ویل شوي وو چي په سفارت کي د پوځیانو هستوګنه د ۱۹۶۱ او ۱۹۶۳ زیږدیز کلونو د ویانا کنوانسیون د پریکړو پر خلاف ده.

د سفارت او دیپلوماسی د نړیوالو اصولو له مخي سفارتونه د داسي پوځي اهدافو لپاره نشي کارول کیدای، په دې ورځو کي په اسلام آباد کي د امریکا د سفارت د پراخولو او بلیك واټر امنیتي کمپنی مساله په هرلوری او واړه مجلس کي د هر چا پر خولو ده، څو ورځي وړاندې امریکا ته له سفر نه مخکي د ولسمشری په ماڼی کي آصف علي زرداري د رسنیو مسوولین او سیاسي شنونکي روژه ماتي ته ور میلمانه کړي وو، د ولسمشری د ماڼی په یخه هوا کي هم د امریکا د سفارت مساله ډېره توده یاده شوه، زرداري ویل چي د امریکا او هند د سفارتي عملي د شمیر پر زیاتوالي باید څوك اندیښنه ونه کړي، که څوك غواړي چي د خپل سفارت د عملي شمیر دوه چنده او یا ترهغو هم زیات کړي هیڅ د اندېښني خبره نه ده، پاکستان پیاوړی او پرخپلو پښو ولاړ هیواد دی، بهرني سفارتونه او د هغوی کارکوونکي د اصولو پابند دي، خو دا عجیب تصادف ؤ چي له دې روژه ماتي نه مخکي ولسمشر زرداري د امریکا او چین له سفیرانو سره بیل بیل لیدلي وو، د امریکا سفیري این پیټرسد او د چین سفیر لوژووائی په تیرو ورځو کي پر دې مسلي په ځانګړیو خبري ناستو کي نظرونه څرګند کړي وو، چین په اسلام آباد کي د امریکا د سفارت پر پراختیا اندیښنه ښکاره کړې وه . د چین د سفیر په حواله په رسنیو کي دا خبرې راغلي چي هغه د امریکا سفارت ته خبرداری ورکړی وو چي د سفارت د پراخولو په اړه د پاکستان د قوانینو او اصولو درناوی وکړي . دا د ډیرې حیرانی خبره ده چي د یوه هیواد سفیر د یوه بل هیواد سفیر ته د اصولو د درناوي په اړه خپل مسوولیت ور په ګوته کوي او پارلماني آداب ور ښیي، دا د ډیرو غیرعادي حالاتو ښکارندوی دی، وروسته د چین د سفارت له لوري یو وضاحت هم په رسنیو کي خپور شو چي په کي ویل شوي وو چي د چین د سفیر خبرې په رسنیو کي غلطي خپرې شوي وې، خو دغه خبره ښکاره شوه چي د امریکا د سفارت د پراخوالي مساله باید د ایف پاك له مسالي سره تړلي وګڼو، په اسلام آباد کي داخله وزارت د دوو داسي پېښو پلټنه کوي چي امریکایي وسله وال چارواکي کله پولیسو درولي نو دوی پولیس وېرولي او د خطرناکو عواقبو ګواښونه یې ورته کړي دي.

د امریکایي چارواکو له خوا پخپله اعتراف شوی چي دوی د ۱۸ هکتارو پر ځمکه داسي یو کمپلیکس جوړوي چي په سیمه کي به د دوی ګټې خوندي کړي او دوی به پرې یو میلیارډ ډالر لګوي. چي ۴۰۵ میلیون ډالر یې به جوړېدو او ساختمان، ۳۳۰ یې د چارواکو پر استوګنځای، او تر ۵۵۰ میلیونو نور ډالر هم مصرف پرې راځي.

د دي ۱۸ هکتاره ځمکې قیمت یو میلیارډ روپۍ ویل شوی دی، په داسې حال کې چې څه موده مخکې د اسلام آباد حکومت ۶ هکتاره ځمکه په ۶ میلیارډه روپۍ پلورلې وه.

د امریکا سفیرې این ډبلیو پیټرسن څو ورځې مخکې په یوه خبري کنفرانس کې د امریکا د سفارت د پراخېدو خبره یاده کړه او دا یې هم وویل چې په امریکایي سفارتخانو کې به ۱۵۰ پوځیان اوسېږي.

نوموړې پاکستان ته د امریکا له لوري ورکړل شوې مرستې یادې کړې او ویې ویل چې تر راتلونکو ۱۸ میاشتو پورې به پاکستان ۴ میلیارډ ډالره تر لاسه کړي، تر څو خپل پوځ پرې پیاوړی کړي. د دې ټولو مرستو او تشکیلاتو د حساب کتاب او اداري لپاره نورو چارواکیو ته اړتیا ده، اوسمهال د امریکا په سفارت کې ۲۵۰ امریکایي او ۱۰۰۰ کسه پاکستانیان په کار بوخت دي چې شاوخوا یې ۲۰۰ کورونه امریکا په کرایه نیولي دي.

اوسنی سفارت په ۱۹۶۹ کې جوړ شوی، چې د ۱۹۷۹ په اور لګېدنه کې ډېر وېجاړ شوی و، اوسنی تعمیر یې هم تر ډېره د اوسېدو نه دی. نوی سفارت به د ۵۶ هکتاره ځمکه باندې په راتلونکو ۸ کلونو کې د ۷۳۶ میلیون ډالرو په لګښت جوړېږي.

امریکا وایي چې په پاکستان کې د دوی د نوي سفارت ودانۍ او پراخوالی د دواړو هېوادونو د ښو اړیکو ښکارندوی کوي، پر دې باید پاکستاني چارواکي اعتراض ونه کړي.

د پاکستان د پوځ پخوانی مشر متقاعد جنرال اسلم بېګ وایي چې په اسلام آباد کې امریکا د سیمې په کچه لوی استخباراتي مرکز جوړوي، چې د آی اس آی، ایف بي آی، بلېك واټر امنیتي کمپنۍ، بي ایس سي او نورو امریکایي کارپوهانو او چارواکو لپاره به تر ۳۰۰ زیات مرکزونه پکې جوړېږي، چې له دې ځای څخه به نه یوازې پاکستان بلکې ګاونډي هېوادونه لکه، چین او ایران هم څارل کېږي.

که څه هم اسلام آباد اوس ډېر خوندي نه دی او ډېری د سفارت کارکونکي له خپلو کورنیو سره دلته نه شي اوسېدای، د نورو سفارتونو کارکونکو خپل شمېر کم کړی دی، حتی ډېرو خو یوازې د سفارت په نوم یو تعمیر لري او بس.

د اسلام آباد په ډیپلوماتیکه ساحه کې چېرته چې سفارتونه دي، لوړ لوړ کانکرېټي دیوالونه د ۱۶ فټو په کچه ولاړ دي او پر لوړو دېوالونو یې کامرې لګېدلې دي، چې تر ډېره همدا کامرې څارنه کوي.

په داسې یوه خطرناك حالت کې چې نور سفارتونه خپلې پښې سپکوي، امریکا ولې غواړي خپل سفارت پراخ کړي؟ د دې پراخوالي او کارکوونکو د شمېر زیاتول څه معنا لري، هېڅوك نه دي پرې خبر.

د پاکستان داخله وزیر رحمان ملك وایي چې د دوی استخباراتي کړی په ټول هېواد کې شته او هېڅ داسې توطیه نه شته چې د پاکستان لپاره خطرناکه وي، د امریکا د سفارت د پراخوالي یو هدف د امریکایي سفیرې خبرې دي، چې په راتلونکو ۵ کلونو کې امریکا پاکستان ته ۷.۵ میلیارډ ډالره ورکوي چې د دې پیسو د مانیټورنګ او کنټرول لپاره نورو کارکوونکو ته اړتیا لري، نو امریکا د دې لپاره غواړي خپل کارکوونکي زیات کړي.

دا د دې لپاره چې امریکا کومې پیسې په راتلونکو ۵ کلونو کې پاکستان ته ورکوي، هغه پاکستان په خپله خوښه نشي کارولای، بلکې له مخکې ټاکل شوې پروژې به پر مخ بېول کېږي.

امریکایي سفېرې په دې برخه کې ویلي چې امریکا به پاکستان ته پیسې په ځانګړو څانګو کې ورکوي او دا پیسې به ډېری د انجي او ګانو له لارې مصرف کېږي. دا د دې لپاره چې د امریکا پر پاکستان اعتماد او باور کم شوی دی، ځکه دوی غواړي د پیسو بشپړ حساب ورسره وشي.

په اسلام آباد کې د امریکا د سفارت اداري مدیر جیرالډ فیټاین له بي بي سي سره په یوه مرکه کې وویل چې په کراچۍ کې د دوی د قونصلګرۍ د پراخوالي کار له یوه کال راهیسې روان دی، په پېښور کې امریکایي چارواکي د پرل کانټیننټل هوټل د پیرودلو په هکله د هوټل له څښتنانو سره په خبرو بوخت دي، چې له اخیستلو وروسته به دلته د امریکایانو شمېر ۲۵۰ ته ورسېږي. په دې کې به هغه پوځیان هم شامل وي چې پاکستاني پوځ ته به ټریننګ ورکوي، خو د هغوی شمېر نه دی معلوم ځکه تګ راتګ به یې روان وي.

د امریکا د سفارت دې چاروداکي د بلېك واټر په هکله دا خبره رد کړه چې اجازه ورکړل شوې چې دلته د تل لپاره پاتې شي.

بل خوا د پاکستان ځینې سیاسي ګوندونو لکه جمعیت علما اسلام، جماعت اسلامي او تحریك انصاف د بلېك واټر پر خلاف د خلکو د پوهاوي لپاره کمپاین پیل کړی دی. د دوی په وینا بلېك واټر په عراق او افغانستان کې د بې ګناه مسلمانانو وینې تویې کړې اوس دوی غواړي په پاکستان کې هم داسې څه وکړي.

د بلېك واټر له ځینو کارونو له خبرېدو وروسته خلك ډېر په وېره کې دي، اوس د پاکستان حکومت ته دا ضروري ده چې خلك په دې هکله وپوهوي.

**هیـــــــــــــــله :**

**دبایرن مېشتوافغانانوکولتوري ټولنه په ډېر درنښت سره لـه ټولـو قلموالوملګرو، پوهانو، منورینـو، کولتوري ټولنو، سیاسي او ټولنیزو سازمانونوڅخه جدي هیلـه کوي چې د حقایقو لـه مخې دنړیوالو ذهنتونـه روښانه او دامریکا ددې خطرنـاکې پروژې مخه ونیسي او کـه نـه دا لوبـه بـه ځکـه د دریمې نړیـوالې جګړې سبب وګرزي چې نه چین دامریکایانو دومره سپین سترګي زغملای شي نه روس او نه دسیمې نور هیوادونه .**

## په جرمني کې دبایرن مېشتو افغانانو کولتوري ټولنه